# د باچا خان تقرير

نوټ : په دولسم اپریل کال نولس سوه اتۀ دېرشم کښې باچا خان د نورو خدائي خدمتګارو سره د صوابۍ په دوره تلے وۀ هلته د يو خدائي خدمتګار ورېه لُور مړه وه د هغې جنازه تياره وه، باچا خان ووې چې دې جامع مسجد کښې به ئې جنازه وکړو خو د هغه ځائے يو مولانا ئې مخالفت وکړو، وې چې نه جنازه به ئې مقبره کښې کوو. نو جنازه مقبرې ته يوړې شوه. دغې مولانا صاحب په خدائي خدمتګار تحريک پسې بدرد ووې په هغې خدائي خدمتګار مشتعل شو او سره ئې لاس ولګول. باچا خان چا چې ټول عمر په دې کښې تېر کړے وۀ چې پښتانۀ به د شر فساد نه منع کوي، هغوي ته په دې خبره ډېره لويه صدمه ورسېده. نو هلته ئې په جلسه کښې دا تقرير وکړو او د ډېر خفګان له وجې نه ئې د درې ورځې روژو نيولو فېصله هم وکړه. پښتون دغه تقرير خپلو لوستونکو ته پېش کوي.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اسْتَعِينُواْ بِالصَّبْرِ وَالصَّلاَةِ إِنَّ اللّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ {153}

خوږو ورونړو! زۀ دلته د څۀ ډېرو ضروري خبرو دپاره راغلے يم، د بد قسمتۍ نه د ننني واقعې په وجه ټولې خبرې زما په زړۀ کښې پاتې شوې.

ورونړو! زۀ خو هميشه تاسو د تقريرونو په ذريعه د خدائي خدمتګارۍ په حقيقت پوهوم او چې څۀ وخت ماته دا معلومه شوه چې اکثر بيا هم د دې حقيقت نه خبر نۀ يئ نو ما ستاسو د زياتي پوهولو دپاره يو وړوکے شان کتاب وليکۀ چې په هغې کښې ما د خدائي خدمتګارۍ غټ غټ اصول بيان کړل، زما ډېر اميد ؤ چې تاسو به ډېر ښۀ پوهه شوي يئ. ولې د دې ننني واقعې نه ماته ثابته شوه چې په تاسو زما تعليم لا ښۀ اثر کړے نۀ دے او تاسو لا هغسې د خدائي خدمتګارۍ په اصولو پوهه شوي نۀ يئ. تاسو تر اوسه د خپلو نفسونو اصلاح لا کړې نۀ ده نو نن به زۀ يو ځل بيا تاسو ته د خدائي خدمتګارۍ په باب کښې يو څو خبرې وکړم، کۀ تاسو په دې خبرو ځان پوهه کړئ او عمل پرې وکړئ نو هله به زۀ منم چې تاسو خدائي خدمتګاران يئ.

ورونړو! تاسو ته ياد دي چې مونږ دا نوې ورورولي او نوې عزيزداري د څۀ مقصد دپاره جوړه کړې؟ ما خو تاسو ته هميشه وئيلي دي چې زمونږ دا ورورى او عزيزداري د دې خبرې دپاره وه چې هر کله چې په



پښتنو کښې پرې دي، جنبې دي، دشمنۍ دي او هم په دې وجه د پښتون کور وران دے او پښتون غلام دے. تاسو ته به دا هم ياد وي چې مونږ دا شرط ايښے ؤ چې په خدائي خدمتګارۍ کښې به صرف هغه سړي اخستے شي چې هغه په صدق د زړۀ وعده وکړي او په خدائے قسم وکړي چې زۀ به خدائي خدمتګار يم. زۀ به د خدائے د مخلوق خدمتګار يم، زۀ به د مخلوق خدمت کوم، پره به نۀ کوم، جنبه به نۀ کوم، زور به نۀ کوم، شور و شر به نۀ کوم، څوک چې په ما زور ظلم کوي زۀ به صبر کوم، تاسو په خپل ګريوان کښې وګورئ چې تاسو دا خپله وعده پوره کړې ده، ستاسو دا قسم رښتينے ؤ؟ زۀ پوهېږم چې تاسو به دا عذر پېش کړئ چې مونږ څۀ وکړو دې خلقو خو زمونږ صبر تمام کړو، لېکن زۀ به تاسو ته صفا صفا ووايم چې د چا صبر تمام وي نو هغه دې خدائي خدمتګاري پرېږدي. څوک چې زور ظلم زغملے نۀ شي هغه دې د خدائي خدمتګارۍ نه استعفٰي ورکړي او په قلار دې کښېني. ولې افسوس دے چې نۀ خو تاسو رښتيني خدمتګار جوړېږئ او نۀ دا جمعدارۍ پرېږدئ. ياد لرئ چې خدائي خدمتګاري ډله بازي نۀ ده، څۀ پره بازي نۀ ده، ولې چې په دې قصو خو د پښتون کور وران دے او هم دا هغه خبرې دي چې د پښتون غوندې يو بهادر قوم ئې غلام کړے دے. نن چې دا کومه افسوسناکه واقعه ما په خپلو سترګو وليده او څومره چې د دې نه زما زړۀ ته صدمه ورسېده د هغې پوره پوره بيان تاسو ته کولے نۀ شم. کۀ چرې ستاسو دا عمل وي او خدائي خدمتګار دا څيز وي نو په دې پوهه شئ چې دا څۀ لږه ډېره ګټه چې مونږ ته خدائے راکړې ده او دا چې نن د پښتون کور څۀ لږ ډېر جوړ شوے دے نو دا ګټه هم تلونکې ده او خدائے دې نۀ کړي دا کور بيا وران شي. تاسو ځان پوهه کړے دے چې اخر خدائي خدمتګاري څۀ شے دے؟ وايم چې دا خو څۀ نوے مذهب نۀ دے دا خو زمونږ هغه پخوانے زوړ مذهب اسلام دے، مونږ هم د هغه خپل مذهب پابندي کوو، ما چې د قرآن شريف کوم آيت ولوستۀ نو په دې کښې الله تعالٰي د خپل حبيب پاک په ذريعه ارشاد فرمائي چې اې مؤمنانو چې څۀ وخت ستاسو د يو زبردست طاقت سره مقابله پېښه شي او په تاسو څوک زور ظلم کوي نو تاسو له پکار دي چې هغه سمه لار پرې نۀ ږدئ او په لار کښې چې څومره تکليفونه مصيبتونه تاسو ته رسي هغه په صبر برداشت کوئ. تاسو د رسول الله صلي الله عليه وسلم د اصحابو حالات وګورئ چې په هغوي به مخالفينو څومره زور زياتے کاوۀ او هغوي به څنګه د صبر نه کار اخستۀ. نو اے ورونړو! تاسو ته ستاسو په دې فعل هېڅ سزا درکولے نۀ شم او نۀ تاسو ته څۀ قسم زور درکولے شم خو چونکې د دې تحريک ټوله ذمه واري زما په سر ده نو ما اراده وکړه چې ځان له سزا ورکړم نو زۀ اعلان کوم چې د نن نه به زما پوره درې ورځې روژه وي او درې شپې ورځې به هېڅ شے نۀ خورم. بغېر د دې نه چې د شرعې د حکم مطابق مابنام د مالګې په څکلو روژه ماتوم. زۀ امېد لرم چې زما خدائي خدمتګار ورونړه به په داسې کارونو پښېماني ظاهره کړي او بيا دپاره به وعده وکړي چې بيا به داسې خبرې نۀ پېښېږي. د دې نه علاوه زۀ تاسو ته حکماً خو نۀ ولې منت درته کوم چې ستاسو چا سره شور شوے

دے د هغوي کوڅو ته لاړ شئ، ستاسو منت مني کۀ نۀ مني، ستاسو خبرې ته غوږ ږدي او کۀ نۀ ږدي خو تاسو پټکي په غاړه کښې واچوئ، د هغوي نه معافي وغواړئ، ځکه چې داسې خبرې زمونږ په تحريک يو بد رنګ داغ دے.

پښتون اول مئ ۱۹۳۸م